آصف صمیم

۲۰۲۲/۰۳/۱۴



# سید حسن خان (حسن)
## په هکله



دا لیکنه د لوی استاد آصف صمیم په قلم :

چی دمرحوم او په وطن مین سید حسن خان حسن (شیون) په هکله یي کړي ده. په دي لیکنه کې ځیني ځایونه ،نه ښکاره کیده ، خو د دي دپاره چي د زماني د آرشیف نه لکه زمونږ صورتونو غوندی پناه نه شی ، او ورک نه شی په دي یادښت کی یی رسوم. سید عبیدالله نادر

## یوښکلی اغږون

اروښاد سید حسن خان شیون د هیواد د سیاسی او ادبی وسمهالي تاریخ په پاڼو کې یو ځلیدلی نوم دی ،که څه هم داسي ځلیدلي ستي د پیژند اړتیا نه لری ،همدومره یادونه یی رښتیا او حق دی .چي د اماني پیر یو انقلابی ادبی ،اوروحانی شخصیت وو .چی ادب او سیاست یي د سیوری په څیر غبرګ ګرځولی دی ،ان چې لږي خوخوږی شاعری یی د متلونو ځای نیولی دی .د دغی روحاني ،انقلابی اوادبی نغری یو سپرغۍ هم زمونږ پیر یو پاکزړی او مینه وړی قلموال ښاغلی سید عبیدالله نادر دی ،چي د غني خان خبره شاعر په وجود څرمن یا پوټکی نه لری .د اغزی د څوکي په ور وړوکوکاری وهی .د خپلي ټولني د اخلاقی او معنوی سمون د یو ارمانجن شاعر په توګه د خپل درد او درک انګازی د مطبوعاتواو خپرونود لارې لویشت لویشت ته رسوی .مینه خپروی پیغام وړاندی کوی ،ان ځاوي ژمني انځوروی او همغه څه وړاندیزوی ،چي خپله افغاني او اسلامي ټولنه یی ،د نشت په رنځ اخته ده ،زمونږ د جهادی پیر ډیری لږی خپرونی به وي چې پاڼو یی د ښاغلی نادرد پیغام او هنر خواږه نه وي خپاره کړي د جهاد تر نسبی بری وروسته یی د هیوادنیو خپرونو په پاڼو کی هم د آرمان او ژمننديی دریځ نه دی پریښی .دلته یی هم له خپله سپیڅلی ارمان سره ،خپل کوتلی تړاو هیر نه کړ .نن هم له همغه ستر ارمان سره پالي چي پا لنه یي ورته له پلارني میراث ده .زه چي د ښاغلي نادر په باب دا څو کرخي توروم ،په آستانه یي او درشایز چاپیریال کی ، د ده د راتوکیدلي اخلاقی شخصیت انځور می نیغ په نیغه سترګو ته واوړي ،او چي ورته ګورم : نو د خپلو نورو شاعرانوځوانانو له پاره می د همدغسی اخلاقی دریځ د خپلولو نغوته او توصیه د قلم له زړه څاڅي ، په داسی حال کې د ده د اخلاقی او ادبی دریځ په ستاینه ځان بختور بولم .خپل قلموال او هنرمنوته د ده په پلونو تګ وړاندیز هم ورته کوم،د پاک رب سپیڅلی درشل ته لاسونه لپه کوم .چي د سید عبیدالله نادر ساری او بیلګي زمونږ پر افغاني ادبی ټولنه باندی لوروليي ولري. آمین

په نمانځنه محمد آصف صمیم ۱۳۷۸/۱/۲۶



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ






**د شهید سید حسن حسن (شیون)  په هکله لاندنی لینک ستاسو معلومات لپاره وړاندی کیږی**

**http://www.afghan-dic.com:8080/Afg_especial/qka_said_hassan_khan_shewan.pdf**

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ